د افغانستان د زیارکښانو ټولنیز انجمن (د اکمل لیکنه)


٢٢ فبروری ٢٠١٨

## اوس افغان کارګر ماشومان
## د حقیقي کارګر په سترګه لیدل کیږي

افغانستان یو داسي تاریخي پړاو ته رسېدلی دی چي اوسیدونکي یې د مرګ ژوبلي، تاوتریخوالي، سیاسي او اقتصادي ننګونو او د ګوډاګیو جهادي مشرانو د تبلیغاتي جریانونو په ولکه کې راغلي دي. په داسي وضعیت کې له ګڼ شمېر جدي مسایلو څخه سترګې پټې شوي دي. که څه هم افغانستان یو بې وزله هېواد دی، خو دا به منو چي افغانان په نړۍ کې د لګښتیزو دودونو او کړنو له پلوه لومړی مقام لري.

د بې شمېرو ستونزو له ډلي یوه موضوع چي هومره پام ورته نه کیږي هغه کوچني کارګران دي. د افغانستان او یوازې څو نورو بې وزلو هېوادونو په سړکونو او بازارونو کې کمکي ماشومان چي هان له ۵ کلونو هم کم عمر لري، لیدل کیږي چي د یوه دوه افغانیو ګټل یې زده کړي دي. مونږ شاید له دې حالت سره عادت شوي یو او دا یې حق ګڼو چي د بې وزلی له امله کار وکړي، خو دا ډېره لږ موضوع ده چي پرې فکر وکړو چي دا ماشومان په هېواد کې د کوچنیانو د قاچاق، ناوړه جنسي ګټې اخیستني، د جنایتونو د خپرولو او د یوه ګواښوونکي راتلونکي نسل لپاره لاره هواروي.

د ماشومانو کار کول یوازینی ستونزه نه ده بلکي لسګونه نور ناخوالي له دې پدیدې څخه ریښه اخلي. په ٢٠١٥ کال کې د کمکیو کارګرانو شمېر نږدې ٢ میلیونه تنه ښودل شوی چي دا شمېره هرو مرو تر ننه پورې د وضعیت په کړکیچن کېدو سره لازیاته شوې ده. زیاتره ماشومان د بې وزلی له کبله کار کوي، خو له بده مرغه او د یو ځوروونکي خبر په توګه باید ووېل شي چي یو زیات شمېر نور ماشومان بیا د خپل پلار د لاسه ورکولو له امله په کار اوښتي دي، چي دا ټول د جګړې اړخیزه عواقب دي. د کورنیو کوچني زامن او لورګانې خپل ښوونځي او درسونه په شا پرېږدي څکه چي میندې یې د ګټلو توان نه لري.

د نړیوالو لپاره بد خبر خو دا دی چي نن سبا تر بل هر څه پر جګړو او د ترهګرۍ سره په نمایشي مبارزې باندې زیاته بودجه لګیږي چي یوازې پر یوې سلنې باندې یې د ماشومانو د ژوندانه شرایط په بل مخ اوړي.

د دې سترو موضوعاتو ترڅنګ داسې زیاتې لارې چارې شته چې مونږ پرې کولای شو لږ تر لږه ماشومانو ته خواړه ورسوو. په نړۍ کې د ډېرنو پر بنسټ د خوړو یو پر دریمه برخه ضایع کېږي چې کولای شي لوی شمېر خلک تغذیه کړي. دا ناوړه پدیده په افغانستان کې هم ډېره خپره او پرته ده. د بېلګې په توګه، د ودونو په سلګونو هوټلونو کې لویه اندازه خواړه ایسته غورځول کېږي چې که چیرې د احساس له مخې یو منظم پروګرام شتون درلودلی، زیات شمېر ماشومان او زاړه چې وږي خیټه شپه سبا کوي، مړیدای شول او لږ تر لږه د کاره خلاص او خپلې زده کړې ته سوچ کولای شو.

د خلکو یو بد عادت دا دی چې تر څو د بې وزلو حالت په تلویزیون یا ټولنیزو شبکو کې په ویډیویي بڼه ونه ویني، داسې انګیري چې په دې هېواد کې بې وزلي خلک نشته یا ماشومان هسې په خپلې خوښې کار کوي. د خیریه ټولنو جوړول او د افغان ماشومانو سره د هر ډول مرستو په اړه د هڅوونکي مستندو فلمونو او کلیپونو جوړول او خپرول هم یو ډول خدمت ګڼل کېږي. هان دا هم یو ډول سپېڅلی خدمت دی او نورو ته الهام ورکوي چې په ریستورانټ کې د میز په سر له ملګرو ډېره پاتې شوې ډوډۍ پرته له شرمه راټوله او د لارې په سر ناستو بې وزلو ماشومانو او ښځو ته ورکړل شي چې دې کار سره د یو با احساسه افغان د وطنپالی غرور زیاتیږي. د دې صحنې په لیدو سره د یو بل افغان په وینه کې خوځښت رامنځ ته کېږي او د راتلونکي لپاره ورته درس ورکوي.

له بلې خوا، کوچني ماشومان د کار لپاره هان د خپلو مشرانو لخوا استثمار کېږي. د بېلګې په توګه، د دارالامان په سیمه کې د امید سبز ښارګوټي په لور د سړک په غاړه د څو کلو راهیسې یوه خیمه لګېدلې چې په مخ کې یې یو ټکره ږیرور سړی ولاړ وي. دا سړی خپل هلکان او لورګان د خیرات ټولولو لپاره د ښار یو او بل موقعیت ته لیږي او په خپله خوشې ورځ تیروي. د ورځې په پای کې له ټولو څخه پیسې غونډوي چې دا کار ماشومان د لومړیو اړتیاوو څخه هم بې برخې کوي.

په پای کې باید وویل شي چې د امریکې په مشرۍ ناوړې جګړې مونږ له ګڼو ننګونو سره مخ کړي یو چې یو شمېر یې د افغانانو له کنټروله وتلي مسوولیتونه دي خو ځینې نور یې د افغانانو لخوا څه نا څه د ترمیم وړ دي. شتمنه او با وجدانه افغانان باید دغه تشې تر توان برېده ډکې کړي او یوازې د یو ماشوم د اړتیا په بشپړولو سره د زرګونو زړه راوګټي، چې دا د حج څخه هم سپېڅلې او پاکه وجیبه ده.